# ناټو« NATO »

# او

# دناټو« NATO » پيژندنه !



دانټرنيټ دفارسی سرچينوڅخه
ژباړونکی ؛ عزيزاحمد خوارمل

## پنځلسمه برخه :

## ناټويونظامي بلاک دی ،نه دمرستواودخيريه کارونو يوسازمان !

په (۲۰۰۸)م کال کې داپريل دمياشتی پرڅلرمه (۴) نيته باندی دناټواو دروسيی ترمنځ په بروکسيل کې يوغونډه ترسره سوه اود دواړوخواو لړليد دسيميزوشخړواومسائلوپه اړه ډېر توپير لرل ،واشينګټن اوبروکسيل خپلی موخی يی نه پټول چې داپخازيا په سيمه کښې دسوله ساتی ځواکونوپه ترکيب کې دبدلون غوښتونکی دي .

دبروکسيل په دی غونډه کې چې دروسيی اودناټودګډی شورا دوه اړخيزه ناسته پرانستل سول ،دغه ناسته دګرجستان دغوښتنی پربنسټ باندی داپخازيا اوسويلی اوستياى دسيمودامنيتی موضوعاتواودشخړودڅېرنی دپاره جوړه سوی وه چې ددی مسئلی دپاره يوه دحل لاره ولټول سی ،مګردتفليس دپېروادعاوپه هکله چې دروسيی په اړه يې درلودل دتفليس دادعاوليست يې وړاندې کړل دهغه جمله نه دبحث لاندی سيمو کښې دروسيی دسولی ساتنی دځواکونودزياتيدو مسئله مهمه موضوع يې جوړه وله .

دتفليس جګپوړی چارواکی دغه مسئله نه پټوی چې دناټو دملاتړله کبله يې ددی بهيردانځور په بدلولوسره دسيميزوشخړو په حلولوکې حساب ندی خلاص کړی او دناټوڅخه ديوغوښتن ليک داوريدولوانتظار لری چې دسوله ساتنی دځواکونوپه ترکيب کې تربحث لاندی جګړيزوسيموکښې دنوروهيوادونوځواکونه هم ګډون وکړی .

**همدارنګه په عین وخت کې دروسیې دایمی استازی « دیمیتری راګوزین »په بروکسیل کې دناټوپه مرکزکښې ډاډ ورکړ او وي ویل دناټومشران هیڅکله هم دتفلیس دغه غوښتنه نه منی اونه یې ترسره کوي .**

**ده په دی هکله وویل،ناټویونظامی اوسیاسی بلاک دی اونه دمرستواودخیریه کارونو یوسازمان ،چې داپخازیا اودسویلی اوستیای په سیموکښې دروسیې انساندوستانه مرستی ترڅیرنی لاندی ونیسی . راګوزین په عین حال کې همدارنګه وویل زه هیله مندیم چې دغه خبراتری جالب اوجوړه ونکی وي . په همدی ډول سره دهمدی نیتی څخه دوي ورځې مخکې دروسیې ددفاع وزیرلمړی مرستیال «الکساندر کولماکوف» په تینګار سره وویل :« دلړلیدهره خبره چې دناټودمرکزدخوا واوریدل سی،روسیه بیا هم وخپل ماموریت ته به داپخازیاپه سیمه کښې ادامه ورکړ ی .»**

**ددی ورځپاڼی دلیکلوپربنسټ دروسیې اودناټودشورادغونډی پرانستل دداوروستیوپیښو رامنځته کیدل،اوهم دروسیې اودګرجستان داړیکوخړپړکیدل ددی سبب وګرځیدی چې دمسکو اودبروکسیل په اړیکوکې هم پڅوالی رامنځته سوی دی .**

**لویدیزهم دمسکودنږدی اړیکو پریکړه یې،دګرجستان په خاوره کې دپه خپل سراعلان سوی جمهوریتونوپه هکله وغندل . همدارنګه امریکا اوناټوپه دی اړه چې روسیه دمنځ غړی په توګه کولای سی ددی جګړه ایزوشخړوپه هواره ولو کې وخپل رول ته ادامه ورکړی ناباوره دی . لویدیز دروسیې خلاف ، دګرجستان سیاست دروسیې په مورد کې«دلمسون وړ» نه بولی ،واشینګټن اوبروکسیل خپلی غوښتنی نه پټه وی اودسوله ساتنی ځواکونو د جوړښت اوترکیب بدلون داپخازیا په سیمه کې غواړي ،دغه مسئله ددی ښکارندوي دي چې لویدیز ترکومی اندازی پوری هیله مند دی اوزیارباسی ترڅودروسیې نفوذ په سویلی قفقازکې محدوده کړی .**

**په هم هغه ډول سره چې څرګنده ده،چې روسیه اویوشمیر مهم لویدیزهیوادونه دسیمزوشخړواو دلانجوپه هکله لړلیدونه یې په ټولیز ډول توپیر سره لري اوپه دی اړه یودبل دپوهیدلودپاره په همدی ډول سره په دی نږدیوکښې نه سی محسوس کیدای .**

# په پولنډاودچک په جمهوریت کې د امریکا د توغندیو د ضد دفاع سیستم په وړاندی د روسیې اندیښني :

د (۲۰۰۸)م کال داپریل دمیاشتی پر شپږمه باندی د روسیې جمهور رئیس ولادیمیر پوتین اود امریکا د متحدو ایالتونو د جمهور رئیس جورج ډبلیوبوش سره د روسیې د سوچی په ښار کې د روسیې د دولت د مشر په ماڼۍ کې لیدنه اوکتنه رامنځته اوخبراتری وسوی . دغه خبری اتری د کریملین په وړاندیز ترسره سوی .

د روسیې او د امریکا د متحدو ایالتونو د مشرانو دغه فوق العاده، ناڅاپی، او ډیره اړینه لیدنه او کتنه وه، چې مخکې اعلان شوی وو د دغه لیدنی او کتنې موخی د دوو اړخیزو اړیکو او «ستراتیژیکو مسائلو» څیړل دمطبوعاتودخوااعلان سول . خو د خبرو اترو بنسټیز موضوع په پولنډ او د چك په جمهوریت کې د توغندیو د ضد دفاع د اډیو د جوړولو په اړه د امریکا د متحدو ایالتونو پلانونه او د روسیې ځوابیه وړاندیزونه وه .

همدارنګه دغه لیدنه اوکتنه د هغه ډیالوګ طبعی دوام وګرځېدی چې د مسکو او واشنګټن تر منځ د دواړو هیوادونو د بهرنیو چارو او د دفاع د وزیرانو په ګډون مخکې ترسره سوی وه .

ددغه ډیالوګ وروستی غونډه د مارچ د میاشتی په نیمایی کې هغه وخت وشوه کله چې کاندالیزه رایس او رابرت ګیتس دبهرنیواوددفاع دچاروزیرانود روسیې پلازمېنی ته راغلي وي . د نوموړی غونډې

وروستيو ورځو کښې د روسيې د کارپوهانو يوې ډلې د بهرنيو چارو د وزير د مرستيال سرګی کيسلياك تر مشری لاندی په واشنګټن کې له خپلو امريکايي انډيوالانو سره ددغو خبراتروپه ادامه سره سلامشورې وکړې . اود همدغو سلامشورو په وخت کی د توغنديو د ضد دفاع د سيستم په اړه د امريکې د متحدو ايالتونو د هغو نويو وړانديزونو ځوابونه دروسيی پلاوی لخواوامريکايی چارواکوته وسپارل شول چی يوځل مخکې په دی اړه ځيړل سوی وه . دروسيې اود امريکائيانو دغه نوي وړانديزونه ډير مهم او په دغه مسئله کې د اعتماد وړ خبراتری ددوي ترمنځ ترسره سوي . خو سره له همدې هم د روسيې ټولی انديښنې يې په دی هکله نه دی ليری کړی، ځکه چی د پولنډ په خاوره کې د امريکايي توغنديو او د چك په جمهوريت کې د رادارو داډيوجوړه ول په خپل ذات کې د مسکو زياته انديښنه يې رامنځته کړی ده .

په همدی ډول سره د سوچی دښاردکتنی او ليدنی نه مخکې امريکايی جګپوړوچارواکو اعلان کړی وو،چې د امريکا جمهور رئيس جورج ډبليوبوش به ددی کتنی اوليدنی په ترڅ کې د روسيې سره د توغنديو د ضد دفاع د سيستم په اړه موافقې ته د رسيدو دپاره ډير ښه شرايط سته دی چې په دی هکله دوه اړخيزی موافقی به رامنځته سي ، سربيره پر دې باندی مسکو د همدغې مسئلې پر سرد واشنګټن سره د ګډې ژبې پيدا کول ممکن ګڼی . او ددې يادونه يې هم په زيات باور سره کړی چی په اروپا کې د توغنديو د ضد دفاع د سيستم د جوړولو د پلانونو په اړه د روسيې انديښنې په دی غونډه اوپه نوروغونډواوخبراتروکې داروپايي هيوادونواو دناټودغړيوهيوادونوومشرانوته ويل سويدی .

سياسی کارپوهان وايی،د پورتنی ليکل شوو ټولو خبرو په پام کې نيولو سره ددې احتمال سته دی چې د سوچی ښار هغه ښار وګرځي چې د همدغې ګډې ژبې پيدا کيدل پکښې اعلان سی او د دغه کار دپاره د بل ښه وخت او ښه ځای پيدا کول سخت دی . نودلته خبره يوازی په دې کې نه ده چې سوچی به د (۲۰۱۴ ) م کال په ژمی کې د اولمپيا د لوبو پلازمېنه وي . دغه کتنه په داهسی وخت کې ترسره کيږی چی د ولاديمير پوتين د جمهوری رياست دوخت وپای ته رسيدو ته يوه مياشت پاته دی او يو څو مياشتې وروسته جورج ډبليوبوش هم سپينه مانی پريږدی، نو ځکه دا به ډير ښه کار وي که چيرې هغه زياتی هلی ځلی د حقوقی اړخه په حتمی ډول سره دعملی کيدونکی تړون او يا موافقه ليك په ځيررامنځته سی ،نوکيدی سی چې ودواړو مشرانو ته د توغنديو د ضد دفاع د سيستم د مسئلی د حل کولو او د دوو اړخيزو اړيکو د «ستراتيژيکو مسائلو» د ځيړلو په لاره کې ګټورځرګنده سی.

خو په سوچی کې ددوهيوادونودمشرانودغه کتنه اوليدنه د دې اړخه څخه هم د پاملرنې وړ ده چې د هغې په ترڅ کې به کيدی سی چې دجمهور رئيس بوش سره د روسيې د نوي ټاکل سوی جمهور رئيس دميتری ميدويديف لومړنی شخصی پيژندګلوی هم ترسره سی . او دغه کار د هغو ټولو ښېګڼو د ساتنې دپاره اړين دی چی په تيرو اتو کلونو کې ددغو سترو هيوادونو تر منځ په اړيکو کې پڅوالی اوخړپړتيارامنځته سوی دی .

## دناټولوی نظامي مانوردقفقازپه سيمه کښې :

**د(۲۰۰۸) م کال داپريل دمياشتی پرڅلرمه (۴) نيټه باندی دارمنستان په هيوادکې دشمالی اتلانتيک نظامي سازمان ناټوديوی لوی نظامي مانوراوتمريناتو دپرانستلوڅخه خبرورکړ . دارمنستان په پلازمينه ايروان کې دناټوداطلاعاتو دورکولو مرکز داپريل پرڅلرمه (۴)نيټه باندی اعلان وکړ چې دناټودځواکونونظامی تمرينات دسپټامبرپه مياشت کې په ارمنستان کې پيل اوپرانستل کيږی .**

**په دغه نظامی تمريناتوکې (۱۰۰۰) زرتنه نظامی سربازان دڅوهيوادونو دستردرستيز دپلی ځواکونودقومانداني څخه به ګډون ولري اودابه دناټولخوا دقفقازپه سيمه کښې سترنظامی تمرين اومانور وي . په همدی ډول سره څه موده مخکې دتدارکاتی مسائلوپه اړه هم لمړنی نظامی تمرين**

اومانورد(۲۰) شلوهیوادونوڅخه د(۱۱۰) یوسلولسو تنو نظامی کارپوهانوپه ګډون سره په ارمنستان کې ترسره سو .

# سرګی لاوروف وویل: روسیه د ټولو هیوادونو سره مرسته کولو ته چمتو ده خو څوك به هم پری‌نږدی چې د روسیـــــې وګـــټو ته دی زیان ورســـوي :

د روسیې د بهرنیو چارو وزیر سرګی لاوروف د ایزویستیا دورځپاڼی دخبریال سره په یوه مطبوعاتی مرکه کې اعلان وکړ : روسیه د ټولوهیوادونو سره ومرسته کولو ته چمتو ده خو د هغو هڅو هم په کلکه مخالفه ده چې د روسیې وګټو ته دی زیان ورسوي .

د روسیې د بهرنیو چارو وزیر د خپلواکو دولتونو د ټولنې د غړو هیوادونو په سیاسي چارو کې د امریکا د متحدو ایالتونو د لاس وهنی په اړه اندیښنه څرګنده کړه ،اوپه دی هکله یې وویل : واشنګټن په ډیر زیات زیارسره غواړي چې د پخوانی شوروی اتحاد فضا ته ورننوځی . دناټوسازمان و نظامی ترون ته د اوکرائین او ګرجستان دمنلو په لاره کې د امریکا د متحدو ایالتونو هڅې د همدې لاسوهنو ډیره څلانده بېلګه ده .

سرګی لاوروف په خپله مرکه کې زیاتوی: «که چیري دوي د همدی کار پر کولو بریالی سی، نو ډیر منفی جیوپولیټیکی او اقتصادی بدلونونه به د پیښو د دغه ډول ودې پایله وي » .

د روسیې د بهرنیو چارو وزیر تر دې مخکې د روسیی د T.V.C ټی- وي- سي د ټلویزیونی شبکی سره په خپله مرکه کې په دې اړه یې ویلی وو :«که چیری په ناټو کې د اوکرائین او دګرجستان دمنل کیدو پریکړه رامنځته اوعملی سي، دا به ډیری جدی پایلې ولري».

سرګی لاوروف په ټینګارسره وویل د دغه کړنه رامنځته کیدل به نه یوازی د امریکا د متحدو ایالتونو سره بلکی د ناټودغړیوهیوادونو سره به هم زموږ اړیکې کړکېچنی کړی .

د روسیې د بهرنیو چارو وزیر یو ځل بیا یې وویل روسیه د امریکا د متحدو ایالتونو او ناټو سره مرستی ته چمتو دی خو د همدې تر څنګ د هغه مسائلو سره هم کلك مخالفت لري چې زموږ د هیواد ګټی په تیره بیا د پخوانی شوروي اتحاد په سیمو کښې یې زیانمن کوي .

دسرګی لاوروف په باور د دغه ډول هڅو په وړاندې د روسیې بنسټیز ځواب باید د اقتصادی، سیاسی اوکلتوری اړخه او همدارنګه د پخوانی شوروي اتحاد په جمهوریتونو کې د سولی اوامنیت د تامینولو او د دغو جمهوریتونو د دفاعی ځواك د لوړولو له اړخه د روسیې د ګټورتوب زیاتول وي .

د روسیې د بهرنیو چارو وزیر داهسی ګڼی چې اوسمهال د هغو بلاکونو وخت مخ په ختمیدو دی چې پر کلك بلاکیز ډیسیپلین ولاړ دي . نن د داهسی نرمو ائتلافونو دیپلوماسی ته اړتیا سته ده چې د حل کیدونکی پرابلم سره په تړلتوب کې خپله بڼه بدلولی سی .

سرګی لاوروف د ایزویستیا د ورځپاڼې سره په خپله مرکه کې اعلان وکړ: « موږ په همدغه لاره کې د کار کولو هڅه کوو او په نتیجه کې د نړی په ټولو سیمو کښې د ملګرتیا د اړیکو پر ټینګولو بریالی سوي یو. »

د روسیې د بهرنیو چارو وزیر په خپله مرکه کې د نړیوالوچارو پر یو شمیر نورو موضوع ګانو باندی هم غږیدلی دی . د بیلګی په توګه د ستراتیژیکی یرغلیزو وسلیو د کمولو موضوع په اړه ، د سرګی لاوروف په حواله مسکو به د همدغي مسئلې پر سر د واشینګټن سره و خپلو خبرو اترو ته دوام ورکړي او پر دې هم حساب کوي چې د همدغو خبرو اترو په نتیجه کې به په رښتیا د دغو وسلیو د کمولو رژیم وساتلی سي . د روسیې د بهرنیو چارو وزیر ددې یادونه هم کړه چې وده ته د لندن څخه د مسکو سره د اړیکو د نورمالولو بلنی په پرله پسې ډول ورکول کیږی . سرګی لاوروف په ټینګارسره یې وویل : «موږ ډیر پخوا ودې ته چمتو یو او دغه اړیکې هم موږ نه دی کړکیچنی کړي ، د هغو د رغولو دپاره هغه مصنوعی جوړ شوی پرابلمونه باید لیری شی چې موږ هغه

نه دی رامنځته کړی ./

(نوربیا،په شپاړلسمه برخه کې ادامه لري) اخیځلیک : د راوی نیوزاوریانووستی څخه